# روان درملنه (فزیوتراپي) څشی دی؟

**روانی درملنه کوونکی څشی دی؟**

- که له کومي بدي تجربې سره مخ شوی یې نو درملنه کوونکی درسره کومک کوي.
- درملنه کوونکی درسره ددغې بدې پېښې په اړه خبرې کوي. په خبرو کولو سره دې حالت بهترېدلی شي. د بدو خاطرو لپاره کومي ګولی وجود نلري.
- درملنه کوونکی ستا لپاره یو متخصص او د خبرو شریکوال دی. هغه ستا د اقامې د حیثیت په اړه کومه پرېکړه نه کوي.

**د فزیوتراپۍ درملنه څنګه کېږي؟**

- که ستا حالت ښه نه وي نو درملنه دې کېدلی شي. درملنه داوطلب ده.
- ته یوه درملنه امتحان کولی شې. که چیرته درملنه ستا خوښه نه شوه یا دې درملنه کوونکي سره ځان ښه نه احساساوه، نو درملنه ختمولی شې.
- ته پخپله پرېکړه کوې چې څه ورته ویل غواړې او څه ورته ویل نه غواړې.
- درملنه کوونکی اجازه نلري چې ستا خبرې بل چاته ووایي. هغه هر څه باید ځان سره وساتي. هغه د رازدارۍ مکلفیت لري.
- درملنه کوونکی به ستا د استوګنې د ګروپ د سوپروایزر سره خبرې کوي. تاسو په شریکه مشوره کوئ چې هغه کومې خبرې ستا سوپروایزر ته وکړي او کومې ونکړي.
- درملنه کوونکی په آلمانی ژبه خبرې کوي. که ته غواړې نو یو ترجمان به تا سره کومک وکړي. هغه هم د رازدارۍ مکلفیت لري.
- درملنه په هفته کې یو ځل کېږي او تقریباً شپږو میاشتو پورې دوام کوي.
- د درملنې مصارف ته خپله نه ورکوې. د روغتیا بیمه یا د ځوانانو مقام ستا مصارف ورکوي.

د درملنې د ملاقاتونو نه وروسته ډېر ځوانان ځان بهتر احساسوي، ښېرته په خوشالی اندیوالانو سره وخت تېروي او ښېرته په مکتب کې خپله توجو مرکوزولی شي.

© 2020، د کلینیکي او بیولوژیکي فزیولوژۍ چوکی، کاتولیک پوهنتون Eichstätt-Ingolstadt (http://tfkvt.ku.de).